پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۹/۰۴

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# پینځم ټوک

دوه سوه او پینځه شپیتمه پرله پسې برخه

## کندهار

ایډیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

د فتح خان او د هغهٔ د ملګرو د شوخي او ټوکو داستانونه د نـهٔ زغملو دی حد ته رسیږي چې ټوله قبیله دي ته اړ کیږي چي اسلم خان شا ته پرېږدي او د بیست له کلا نور ووځي او ځانته نوي میني پیدا کړي. پر همدې بنسټ بریڅان مخ پر سویل لویدیځ په دریو څانګو کي کډه سول چي په دي ډول ول: مندوزي د سید خان تر مشری لاندي؛ بادلزي د شیخ ثابت تر مشرۍ لاندي او زکو زي د ارباب مقصود تر مشرۍ لاندي. اسلم خان او کورنۍ ئي د بست په کلا کي پاتي سوه او ویل کیږي چي د اسلم خان اعقاب تر نن پوري د بست په کلا کي دیره دي. د ټولو کډه سویو بریڅانو شمیر کولای سو ووایو چي ۲۰۰۰ تنه جنګيالي ئـي درلودل. د ګومان له مخي دا قبیله تر ډېره له یو بل سره یو لاسي او یو ځای پاتي سوه او په ګډه د بیست له کلا څخه د ترنک غاړه ئـي ونیوله او بیا د ډورۍ د سیند او د دښتي د ژۍ په اوږدو کي راتاو سول؛ هر ګوره پر ښوراوک له برید مخکي دا مشهوره ده چي د بریڅانو دا دری څانګي د یو بل تر څنګ اوسیدلي او کیږدۍ ئـي یو بل ته نیږدي وي: مندوزي په سپیني خولـي کي، بادلزي په خرما کي او زکو زي په سرګو کي.
دا مهال په ښوراوک کي کاکړان استوګن ول، کاکړانو هم د بریڅانو په شان ولسي قدرت درلود او وسلي ورسره برابري او یو شان وې. د دې ترڅنګ هغوی درې ښې کلاګاني درلودلي چي د دریو سترو غونډیو پر سر جوړې سوې وې او لا تر اوسه په درې کي موجودې دي. بریڅانو لومړی د بادلزیو پر اوسني کلي برید وکړ او کلی ئـي ونیوهٔ. دلته د شیخ ثابت تر مشرۍ لاندي بادلزیو ځانونه ښـهٔ ثابت کړل او ورخیرمه ځمکي ئـي هم ونیولي. وروسته دوی د اوبوزیو پر «زړې» کلا برید وروړ او په پای کي ئـي کاکړان د مستنګ پر لور غرونو ته وشړل. دغه کاکړان اوس د سیبي په ولسوالی کي استوګن دي. له دې وروسته ټول ښوراوک په دریو برخو برخو وویشل سو او د بریڅانو د همدغو دریو څانګو په منځ کي وویشل سو. خو له دې سره سره د بریڅانو برخلیک داسي نـهٔ وو چي ښوراوک دي له نورو جګړو پرته وساتي. د سربڼ د مشر زوی اولاده شیراني د بریڅانو په شان په شمار کي ډېر سوي ول خو د بریڅانو برخلاف شیراني د ختیځ لور ته وخوځیدل چي د دوی غټ شمیر د دیرهٔ اسمعیل خان پر پولي استوګن دي. بریڅان دا خبره تصدیقوي چي په هماغه لومړیو وختونو کي شیرانیان یا د شیرانیانو یوه برخه لاهور [1] ته نیږدي په یوهٔ ستر غرهٔ کي چي «کاسي» [2] نومیږي استوګن سول. کیدای سي د همدې وخت په شاو خوا کي چي بریڅان د هلمند پر غاړي له خپلو مینو وځي د کاسي شیراني دې هم کډه سوي وي خو په معکوس لوري کي دې بیرته افغانستان ته راغلي وي. [*]

1 - Lahore
2 - Kassi

[*] ( د «شال Shal» (کویټه – ژ) کاسیان په دې اعتراف کوي چې دوی د هغې قبیلې اعقاب دي چې د «کاسا Kasa» په غرۀ کې اوسېدله، خو له دې سره بیا دوی وايي چې دا غر د خیبر په شمال کې « د غوايي لارې Ghwai –Lara» ته نیږدې واقع وو." مؤلف هیڅ شک نـۀ لري چې د غوايي لارې، لار هماغه د « ګوالري Gwaleri» مشهوره لاره ده او د کاسا غر د «تختِ سلیمان Takht -i- Suliman» غر دی. په حقیقت کې د دېرۀ اسمعیل خان سرحدی شیرانیان د تخت سلیمان په شاو خوا کې مېشت دي او د تخت سلیمان صحیح سیمه ییز نوم د «قیصر غر Kaisar Ghar» دی. په دې نوم کې د غرۀ توری خو څرګند دی او ظاهراً په ډاډ سره ویلای سو چې په خپله د «قیصر Kaisar» نوم د شیراني بریڅانو او د «شال» د «کاسیانو»، په ژبو هماغه «کاسا Kasa» یا «کاسي Kasi» دی. ډېره شوني ښکاري چې کاسیان دې د شیرانیانو کومه څانګه وي خو په دې توپیر چې کاسیان لا مخکې کډه سوي دي.
ښاغلی دوک د «هرناي، تهل، چوتیالي Harnai, Thal, Chotiali» او نورو ولسوالیو په هکله خپل راپور کې دا کتنه وړاندې کوي چې د هاغې سیمې تقریباً ټول استوګن پټهانان وايي چې دوی «کاسیا Kasia» ته تللي ول چې کاسیا هماغه تخت سلیمان دی او بیا له هغۀ ځایه دوی لویدیځ لور ته خپلو اوسنیو استوګن سیمو کې مېشت سوي دي. ښاغلی دوک په دې نظر دی او شک نـۀ سته چې د دوک نظر دقیق دی چې له کاسیا څخه کډه کېدل په حقیقت کې د محمود غزنوي تر مشرۍ لاندې پر هندوستان باند د یرغل پرمهال د قبیلې راستنیدل دي. په دې صورت کې اوس آسانه کیږي چې د شیرانیانو او کاسیانو هغه ګډوډ او مغشوش نظریات توضیح کړو چې د یاد غرۀ د موقعیت په هکله ئـې کړي دي، د جغرافیـې په هکله د دوی توضیحات زښت ډېر مبهم دي او هم لویدیځ لور ته د دوی د خوځښت روایات، په هندوستان کې د تیر کړي وخت د یاد داشتونو په وسیلې لا نور کم رنګه سوي دي.)
د کوم نا څرګند دلیل پر بنسټ دوی سوېل لور ته ښوراوک ته مخه کړله او وروسته له دې چې بریڅانو ښوراوک ونیو، دوی هم ژر هلته په دې فکر ورسیدل چې دوی به هم دلته په نسبتاً حاصلخیزې ولسوالۍ کې مېشت سي. بریڅان وايي چې دوی له غرونو څخه مخ پر ختیځ راکوز سول؛ د ښوراوک د دښتې په شمال ختیځ ګوټ کې د پیرمحمد کاریز د کلي په ګاونډ کې د شګو غونډۍ ته نیږدې یوه سټره جګړه پیښ سوه. شیرانیانو بشپړه ماته وخوړله او پښین ته ستانـۀ سول، او د پښین د مېشت قوم تر سیوري لاندې د تحت الحفظ او ساتني ادعا ئـې وکړه چې د اوس پر مهال یوه پیاوړې قبیله وه. د جګړې د ډګر سیمه په یوې نښې ښودل سوي ده؛ همدلته په وني کې لا تر اوسه یو ډېر ژور قطع سوی ځای ښکاري. ویل سوي چې د جګړې د شدت په شیبو کې «فرده خان» [3] د شیرانیانو مشر تر دې وني لاندې کښیناست چې د جګړې جریان وګوري. همدلته فرده خان د یوۀ ځوان بریڅ تر برید لاندې راغی، د دغـۀ ځوان برید دومره پیاوړی وو چې نـۀ یوازې د یوې توري په ګوزار ئـې د شیرانیانو د مشر تنه کاملاً قطع کړه بلکه نیږدې وه چې دا ونه هم راوغورځوي. شیرانیان په دې بریالي سول چې ترین په دې متقاعد کړي چې د دوی له هیلو او آرمانانو څخه دفاع وکړي، او شیراني او ترین دواړه قبیلې متحداً په دومره شمیر کې راغلې چې بریڅان اړ سول چې شرطونه ته غاړه کښیږدي. بریڅان په دې سلا سول چې شیرانیانو ته د لوړه او د سرلت د غرنی لړۍ د لمنې تر منځ ځمکې ورکړي. شیرانیان په تدریج سره د خپل منځي ودونو او دوستانه چارچلند له لارې له بریڅانو سره ګډ سول او اوس د بریڅانو د قبیلې څلورمه اساسي څانګه شمیرل کیږي. «وګورئ: بریڅان»
په ښوراوک کې د شیرانیانو له مېشت کېدلو وروسته داسې ښکاري چې پر افغانستان باندې د نادر شاه «افشار- ژ» د یرغل ترمهال پورې د سیمې په تأریخ کې کومه د یادونې وړ پېښه نـۀ ده رامنځته سوې. بریڅانو هم د کندهار د میر حسین تر مشرۍ لاندې په متهورانه مقاومت کې برخه واخیستله او ډېر تلفات ئـې وزغمل. نادر شاه د دوی د سزا لپاره خپل جنرال، کامران د یوۀ لوی ځواک په ملتیا ولیږۀ. د بریڅانو لویه شمیره غرۀ ته په شا سوه خو بادلزي چې پر ځان ډېر غره ول او له تیښتې شرمیدل او په خپلې زړورتیا ئـې ډېر اعتماد درلود د اختر د لمانځنې په پار په خپلو کورونو کې پاتې سول. د کامران ځواک دوی یو ناڅاپه محاصره کړل او له دریو ورځو نا امید کوونکو جګړو وروسته کامران غالب سو، د دوی کلی لوټ او تالا سو او د ډېرو کسانو غاړې ئـې له تورو تیرې کړې. د بادلزیو یوازې څو سوه تنه په تیښته بریالي سول او د بریڅانو له نورو قومي څانګو سره یو ځای سول. د بادلزیو د سیمې ګردچاپیره ورانې او کنډوالې په خپله د دې فاجعې پر پراخوالي شاهدي ورکوي. تر دې مهاله بادلزي نـۀ یوازې د بریڅانو د څانګو تر ټولو مشره بلکه پیاوړې څانګه وه؛ او په ښوراوک کې د دوی کلی تر ټولو نورو لوی کلی دی. له دې چې دوی اوس ډېر ضعیف سوي دي، د نیمه پردۍ شیراني څانګې په استثناء، او سره له دې چې د دوی کلی تر ټولو نورو کلیو لوی کلی دی په شمیر کې د مندوزیو یو پر دریم هم نـۀ دي.
په نسبتاً معاصرو وختونو کې دې سیمې کې د یادولو کومه مهمه پېښه نـۀ ده سوې، یوازې د لوټ او تالا ځینې پیښې کیږي چې هغه هم په عام ډول د غچ اخیستلو په پار کیږي. په دغسې ماهیت بریدونه یو ئـې په ۱۸۷۳ز کال کې په ترینو باندې وسو؛ دا برید د دې لامل سو چې د لوړه سیند ته بند وغورځوي «وګورئ: بریڅ» په ۱۸۵۸ز کال کې او یا د

[3] - Fardah Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدې مودې په شاوخوا کې تقریباً ۳۵۰ تنو بریښان پر «مونگارچر» [4] باندې ورواښتل، مونگارچر د بلوڅستان یوه ولسوالي ده چې د قلات او مستونګ تر منځ واقع ده او د خان «ناصر دوهم» ۲۰۰ اوښان ئې ترې یوړل. شاغاسي «ولي محمد؟» براهوي سرداران احضار او له یوۀ ځواک سره ښوراوک ته راغی. ستره جګړه پیښ سوه، په دې جګړې کې بریښان وځپل سول او ۲۰۰ تنه ئې ووژل سول. ورپسې سوله وسوه او تر ۱۰ کالو پورې دا سوله وساتل سوه. له پورته یادې سوې پیښې تقریباً درې کاله وروسته د هلمند د رود بار یوه ماموسي براهوي، زبرخان، له خپلو ۴۰۰ تنو جنګیالیو سره په «پنجو» [5] راواوښت او لوټمار برید ئې وکړ، پنجو د ګرمسیل د سړک په اوږدو کې د دمې نیولو دوهم ځای دی، او د علي زي زکوزیو ۲۰۰ اوښان ئې له ځان سره یوړل. د سید خان «د تورزي باکو خان د پلار» تر مشرۍ لاندې د ۴۰۰ تنو جنګیالو او د ترین خان تر مشرۍ لاندې د نوشکي له براهویانو څخه یو ځواک جوړ سو. دا دواړه ځواکونه په ګډه د ګرمسیل پر لور وخوځېدل او د «لنډي» په سیمې باندې راکوز سول او د زبر خان ۳۰ تنه ئې ووژل، دغو ۳۰ تنو د لوټ او تالا یو بل نوی برید پیل کړی وو. د دوی اوښان ئې ونیول خو دا ځواک کله چې د زبرخان له ۱۰۰۰ کسیز ځواک څخه خبر سو بیرته په شا سو. په دې پسې د «سنګر» په نامۀ یوۀ ځای کې چې د لنډي او د «دیشو» تر منځ واقع او هلته یو ډول طبیعي کلا ده د زبرخان برید په شا وتمبول سو او د زبر خان زوی او ۱۵۰ تنه «ممه ساني» په کې ووژل سول. په دا بله غاړه کې تیمور خان چې یو براهوي مشر وو له خپلو دوه وو نورو جنګیالیو او یوۀ بریخ سره ووژل سول. له دې پیښې وروسته دوی بیرته په خوندي توګه شوراوک ته راستانۀ سول.

د ۱۸۶۱ز کال په شاوخوا کې د زبرخان له مړینې وروسته، د زبر خان یوۀ لیرې خپلوان، محمد رضاء، پر یوۀ «بالولي براهوي» [6] «جانغي خان» [7] او ۵۰ تنو نورو چې د «قایم خان قالي» [8] د څاه په سیمې کې ئې اوښانو پیول برید وکړ، د هغوی ۲۰ تنه ئې ووژل او ټول اوښان ئې له ځان سره یوړل. غلو د «بام پور» [9] د سیمې د «ګجرانو» [10] تحفظ تر لاسه کړ خو د «خاران» [11] د سیمې آزاد خان له ګجرو په دې خبرې په دښمنۍ کې وو چې ګجرو د دۀ په سرحد کې پراتۀ کلي «کاله ګان» [12] باندې برید کړی او د دۀ ورور «دلاور خان» ئې د اسیر په توګه له ځان سره بیولی وو، آزاد خان د ۲۰۰۰ تنه براهویان او بلوڅان راټول کړل چې په «چغي» [13] کې د سرفراز خان د څاه په سیمې کې له پیر محمد خان سره چې ۱۰۰۰ بریښان ئې په ځان راټول کړي ول یو ځای سي. دواړو ګډو ځواکونو د «دال بندین»، «ګله چاه»، «ماشخیل» او «قندکي» [14] له لارې مارش وکړ او وئې لیدل چې محمد رضاء د «سنجراني بوچال» [15] له مشرانو براهیم خان، سرفراز خان او امام خان سره د سرحد په ولسوالۍ کې اتحاد کړی دی. آزاد خان او پیر محمد په «ممه سانیو او سنجرانیو» یرغل وروړ او د ډیرو لږو تلفاتو په زغملو ئې هغوی ته ماته ورکړه. جنګي غنایم په دریو برخو وویشل سول او دوی برخې ئې آزاد خان واخیستلې. په دې پسې بریښانو مخامخ د ښوراوک پر لور مارش وکړ او هر هغه څه ئې چې په لاس کې لرل پرته له دې چې کومې بلې ماجرا ته لاس واچول خپلو کورونو ته ورسیدل: خو آزاد خان خپل د لوټ غنایم د یوۀ کوچني محافظتي ځواک په ملتیا ولیږل او دی په خپله د خپل اساسي ځواک له لویې برخې سره پاتې سو او د امام خان کلی ئې محاصره کړ. یوۀ بل قومي مشر د آزاد خان په غنایمو چې د کوچنۍ او ضعیف ځواک په ملتیا ئې لیږلي ول برید وکړ او ټول اوښان، پسونه ئې ورڅخه یوړل او آزاد خان او سړي ئې تش لاس خاران ته ستانۀ سول. په دا بل کال ئې آزاد خان خپل غچ واخیست او د یوۀ برید په ترڅ کې ئې ۸۰ تنه سنجرانیان ووژل او ۳۰۰۰ پسونه ئې ورڅخه له ځان سره راوړل.

بریښان وایي چې د سیستان پر لور د دوی بریدونه په دې ډول وو چې د دوی ټول ځواک په اوښانو بار وو او استثناءً څو د ګوتو په شمار آسونه به ورسره ول.

---

[4] - Mungarchar
[5] - Panju
[6] - Baloli Brahui
[7] - Janghi Khan
[8] - Kaim Khan Kalli
[9] - Bampur
[10] - Gajars
[11] - Kharan
[12] - Kalagan
[13] - Chaghai
[14] - Dalbandin, Gala Chah, Mashkhel and Kandki
[15] - Sanjarani Buchal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کهندل خان او د کندهار د سردارانو تر مهال پورې داسې ښکاري چې په ښوراوک کې کومه حکومتي نه وه خو د احمد شاه تر «پدر سالاري» [16] سیستم لاندې برېڅانو د دراني لښکر لپاره خپله د آسونو معموله سهمیه یا ونډه برابروله.
خو کنهدل خان پشین، ښوراوک او شارود ته یو ولسوال وټاکهٔ او دا ټولې سیمې د امیر شیرعلیخان تر مهاله د اداري واحد له اړخه په یوې ولسوالۍ کې شمیرل کیدلې. شیرعلیخان ښوراوک او شارود له پشین څخه جلا کړل او دواړه ئې د یوهٔ بیل حاکم تر اداري لاندې راوړل. دې حالت تر هغهٔ مهاله دوام وکړ چې برتانوي ځواکونو د ۱۸۷۸ ــ ۷۹ په ژمي کې پشین اشغال کړ. د ۱۸۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې د گورنرجنرال مرستیال ایجنټ یا استازی ښاغلی دوک، له ۱۷۶ توپکوالو سره د ۳۰ تنو سپرو په ملتیا د برتانیې د دولت د استازي په توگه ښوراوک ته لاړ. ښاغلي دوک د برېڅانو له یوې ټولنې سره مخامخ سو چې سید بت ته نیږدې یوه کوچنۍ ښته رامنځته سوه او برېڅان په شا وتمبول سول. په دې پسې دوی په خپلې رضا تسلیم سول او د دې اراده ئې څرگنده چې خپل مالیات به ورکوي. د برېڅانو د مقاومت په هکله ښاغلی دوک د خپل مأموریت په راپور کې وایي چې برېڅانو ته تبلیغ سوی وو چې گڼي برتانویان د دې لپاره راغلي چې د دوی سیمې او کورونه لوټ کړي او د دوې ښځې له ځان سره بوزي خو د ښاغلي دوک د ماموریت د موخې په پوهیدلو سره هغوی تیت سول مگر د خپلو ملایانو پیغورونه ئې له ځان سره یو ووړ. همدا ول چې دوی بیرته جگړه پیل کړه خو دا ځل ښهٔ وځپل سول. شک نهٔ سته چې مشر ملکان سولې ته چمتو ول خو د پاریدلي اکثریت تر اغیزو لاندې راغلل. سوله له ښتې وروسته وسوه. د ۱۸۷۹ز کال د مې په میاشت کې د گندمک د «قرار داد» [17] له مخې پشین برتانویانو ته د یوې اختصاصي ولسوالۍ په توگه ورکړل سو خو له ښوراوک او شارود څخه هیڅ یادونه نهٔ ده سوې. د بلوڅستان د ایجنټ، گورنرجنرال او د افغانستان په سویل کې د سیاسي مقاماتو تر منځ یو شمیر لانجې او شخړې راپورته سوې څکه ایجنټ گورنرجنرال ویل چې ښوراوک باید د پشین برخه وي، نو دې کبله دې د دهٔ تر اداري لاندې وي حال دا چې د افغانستان په سویل کې سیاسي مقاماتو ویل چې دا د کندهار د والي د شیر علي د قلمرو یوه برخه ده. د ۱۸۸۰- ۸۱ ز کال له پای مخکې هم د گندمک قرار داد او هم د کندهار والي ترې تم سول او برتانوي مقاماتو ښوراوک په خپل لاس کې ونیوهٔ او د ۱۸۸۰ز کال مالیات ئې راټول کړل. د ۱۸۸۱ز کال په پسرلي کې دا ولسوالي یوځل بیا متروکه پرېښودل سوه. «میتلند»
افغان مقاماتو په تیرو شپړو کالو کې په ښوراوک کې د استحکامي کلاگانو د ودانولو او د سرتیرو د ځای پر ځای کولو په هکله متداومې او منظمې خبرې اترې کوي: خو هیڅ کوم کار ئې نهٔ دی تر سره کړی، یوازې ئې دلته او هلته د بلوڅ د سرحد په اوږدو کې د خاصه دارانو څو پوستې جوړې کړي دي. «بومي معلومات، ۱۹۰۰- ۱۹۰۵»
د ښوراوک اوسنی «۱۹۰۹» حاکم سردار حبیب جان نومیږي. «آی.بي. سي.»
* **شورلن**: ۳۱ ــ ۳۱، ۱۱ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «سگزیو» [18] په مخالف لور کې د ارغسان د سیند پرغاړې یو کلی دی.
**شهین**: «شویین»: ۴۴ ــ ۳۱، ۴۱ ــ ۶۵: دا د ارغسان د سیند پر ښۍ غاړې د «سردِه» او «مرنجان» په مقابل لوري کې یو کلی دی. د دې کلي او د «سردِه» تر منځ یو گودر دی چې د درندو سیلابونو له وختونو په استثناء نورو وختونو کې ورڅخه اوښتل ممکن دي. «بیسکو» *اوسنۍ نقشې دا نوم د «شویین- ی- وُستـَم» [19] په ډول ښیي.*
* **شولو کک**: ۲۵ ــ ۳۲، ۲۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د ارغنداب د سیند پر یوې څانگې د «شیکان غرهٔ» [20] په ختیځ او د میزان په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.
**شوري**: ــ ۳۲، ــ ۶۶: دا د قلات غلزایي د ختیځ په ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو» *اوسنۍ نقشې د «شورآو» [21] نوم په ۴ ــ ۳۲، ۵۶ ــ ۶۶ «ن» کې ښیي.*
**شتر گردان**: شتر گردن: ۳ ــ ۳۲، ۳۰ ــ ۶۵ «ن»: دا د شاه مقصود د غرنۍ لړۍ شمال ختیځ ته نیږدې د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس»

[16] - patriarchal system of Ahmad Shah

[17] - treaty: دلته په متن کې treaty راغلي چې د تړون، میثاق، عهدنامې، معاهدې او د دوه وو هیوادونو تر منځ د قرار داد په معنی ده نو ځکه ما دلته د قرار توری وکاراوهٔ- ژ

[18] - Sagzai

[19] - Shuyen -e Wustam

[20] - Shaikan Ghar

[21] - Shuraw


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سیاه چپ**: ۳۱ ــ ۳۱، ۲۳ ــ ۶۵ «ن»: دا سنگیسار ته نیږدې له کندهار څخه ۲۴ مایله لیرې په قریه جاتو کې یو کلی دی. «بیسکو» *اوسنی نقشې د «سیاه چوی» [22] (ښایي سیاه جوی وي – ژ) نوم ښیي. په دې نوم بل کلی په ۱۰ – ۳۳، ۵۰ ۶۶ «ن» کې او په دې نوم کنډوالې په ۵۱ ــ ۳۳، ۵۰ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*
**سیاه جوی**: ــ ۳۲، ــ ۶۶: دا د ارغنداب په درې کې د میزان د ولسوالۍ یوه علاقه ده. «بیسکو»
**سیاه منصور**: ــ۳۱، ــ ۶۵: دا د زاړهٔ کندهار په سویل کې چهار دیوال ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو»
**سیاه سنګ**: ۵۰ ــ ۳۱، ۳۵ ــ ۶۵ «ن»: دا یو کوتل دی چې د ارغنداب له درې څخه د خاکریز تر ولسوالۍ پورې لاره ورڅخه تیریږي. کوتل ته د ننوتلو د لارې نبنه، درې سپیني غرنی څوکې دي؛ دا د هغې غرنی لړی څوکې دي چې د خاکریز د درې سویل ختیځه پوله جوړوي او د سیاه سنګ د کلا له شمال څخه تقریباً ۱ مایل لیرې دي. کوتل ته د ختلو لاره د کوتل له سر څخه ۸۰۰ فیټه کوز د غرهٔ له لمنې څخه پیل او ورخیږي ؛ ټوله لاره تقریباً ۶ مایله ده ؛ د جګړن لنیس د محاسبې له مخې د دې لارې لومړی د مایل ۴/۳ ۵ واټن د توپونو د خیږولو لپاره عملي لاره ده. په دې پسې چې د کوتل تر سره پورې د مایل ربع واټن دی، جګړن لینس وایي چې سره له دې چې د دې لارې هر چیرته لاسرسی شونی دی خو لاره د غرو په لوړو کې پرمخ تللې او د غرهٔ اړخونه ورته ډیر رانیږدې سوي دي، لاره د یوهٔ ډبرین خوړ په اوږدو کې پر مخ تللې چې ډیرې ښې اوبـهٔ په کې بهیږي؛ دلته یوازې څو ساعته کار کولو ته اړتیا ده چې دا لاره د توپونو د لیږدولو لپاره عملي سي." له همدې ځایه بلافاصله ورهاخوا د ۲۰۰ یارډو په اوږدوالي د ختلو یوه ډیره ستوغه لاره ده چې د باروړونکو اوښانو لپاره سخته ده خو کولای سو دلته له دې ستوغ ځای څخه اجتناب وکړو او یوه بله لاره ونیسو چې ختل وربانديٍ سخت نـهٔ دي او د دې لپاره چې د عرابه لرونکو وسایطو د تګ وړ وګرځي باید په مارپیچ ډول ورباندې وخیږو. له همدې ځایه وروسته دا لاره "مخ خلاصې توصیف سوې چې د یوې آساني غرنی ډډې له لارې " د «مـُنديګک کاریز» [23] پر کلي " ورکوزیږي" ؛ د کوتل له سره تر دې کلي پورې ټوله لاره ۵ مایله ده. د سیاه سنګ کلا تقریباً ۶۰ یارد مربع لویه ده. دې کلا ته د اوبو رسولو په هکله کومه شرحه نـهٔ ده ورکړل سوې خو شوني ښکاري چې له یوهٔ کاریز څخه ورته اوبـهٔ راګرځول سوې وي؛ ویل سوي چې د کاریز اوبـهٔ هیڅکله نـهٔ وچیږي؛ د کاریز اوبـهٔ د کوتل له خولې څخه رابهیږي. «لینس»
**سیاه سنګ**: ۸ ــ ۳۲، ۲۷ ــ ۶۵: دا په دې نوم دوهم کوتل دی چې له خاکریز څخه د لام تر درې او د «کوتلِ پال» [24] له لارې نښ ته لاره ورڅخه تیریږي. دا لاره د اسد کلا شا ته پریږدي او لومړی لویدیځ او سویل لویدیځ ته د ۴/۱ تر ۲/۱ مایل پورې د ارت کوتل له منځه تیریږي او پر یوهٔ ټیټ غرهٔ چې لاسرسی او ختل ورته آسان دي ورخیږي. دا لاره د دوهم او څلورم مایل تر منځ د څلورو کوچنیو کلیو له څنګ څخه تیریږي دا کلي دا دي: «مهر داد»، «دین محمد»، «میر خوش» یا «آدم کاریز». څلورم مایل ته نیږدې واټن کې دا لاره مخه نښ ته اړوي او لویدیځ ته په تاویدلو سره د لام له کوتله تیریږي او په تدریج سره مخ پر «چوني» [25] چې په لام کې لومړی کلی دی ورکوزیږي. د اسد له کلا څخه تر چوني پورې واټن له ۷ مایلو ډیر نـهٔ دی، لاره مخه خلاصې ده او د توپچي ځواک د تګ لپاره عملي ده؛ د لار په دواړو غاړو کې غرونه له سره تر پایه ټیټ او آسانه دي. په ناله کې اوبـهٔ سته، د دې نالې له منځه کوتل له کاریزه پورته ان تقریباً د آدم تر کاریز پورې چې مخکې ئـې یادونه وسوه تللی دی خو له دې ټکي ورهاخوا په چوني کې د لام تر درې پورې بل کلی نـهٔ سته. «آی. بي. سي.» *په دې نوم نور کلي په دغو موقعیتونو کې دي: ۱۰ – ۳۲، ۳۰ ــ ۶۵ «ن»؛ ۴۳ ــ ۳۲، ۲۹ ــ ۶۵ «ن» او ۵۱ ــ ۳۲، ۲۲ ــ ۶۵ «ن»*
* **سیاه سنګ**: ۵۶ ــ ۳۲، ۱۴ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د چورې د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې د کمیسان د سیند پر غاړې یو کلی دی.
* **سیاه زمین**: ۱۲ ــ ۳۲، ۲۵ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د میران د شمال لویدیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.
* **سیـب زار**: ۵۱ ــ ۳۳، ۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د لوړه د سویل لویدیځ په تقریباً ۱ مایلۍ کې د ارغسان د شمال لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
**سکندر کلا**: سکندر قلعه: ۳۰ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۷: دا د بابکر د څاهانو د ختیځ په ۳ مایلۍ کې د علیزیو کاکړو یو کوچنی کلی دی. دلته ډیره ښه کرهنه سوې ده. «بن» اوسنی نقشې د «اسکندر» [26] نوم ښیي.
**سکندر خان** :ــ ۳۱، ــ ۶۱: دا کندهار د ختیځ په تقریباً ۲۳ مایلۍ کې «جبه دار» ته نیږدې یو کلی دی.

---

22 - Sya Choy
23 - Mundigak Karez
24 - Kotal -i -Pal
25 - Chunai
26 - Iskandar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

* **سکندر زي**: ۳۷ ــ ۳۱، ۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د معروف کلي ته نیږدې د معروف د سیند پر غاړې یو کلی دی.
**سکندو**: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د محمود خان کلي ته نیږدې د ارغسان لوړه په ښۍ غاړه کې د پوپلزیو یو کلی دی.
**سیک هاله**: [27]: ۳۹ ــ ۳۱، ۳۷ ــ ۶۵: دا له کندهاره ۵ مایله لیرې د ارغنداب پر کیڼې غاړې باندې یو کلی دی.
«وګورئ: شیخ چاله» «بیسکو»

**څـلی کڅ: سیلي کچ: یا: شیلي کچ** [28]: ۱۲ ــ ۳۰، ۱۳ ــ ۶۶ «ج»: دا د لوړه د سیند په کیڼې غاړې «ختیځې خوا کې» د ښوراوک په دښتې کې له غرونو څخه د سیند د راوتولو ځای ته نیږدې یوه متموجه لوړه سطحه ده. دا سطحه د میر علم له کلا ۳ مایله پورته او د لوړه په تنګیو کې له میرزا کچ څخه تقریباً ۱۰ مایله لیرې واقع ده. دا لاره دلته له ښوراوک څخه په راپورته کیدلو د سیند له ډبرین بستر څخه منحرف کیږي او مخ پر دنګې سطحې اړوي؛ د دې دنګې سطحې پر ژۍ باندې دوې ونې او یوه هدیر «هډ ایره ــ ژ» ده. شک نـهٔ سته چې د دې هډ ایرې نوم له «سیلي» (څلي ــ ژ) څخه راغلی دی چې د ډبرینې ستنې یا د تخته سنګې په معنی ده چې د قبرونو پر سر درول سوي وي. دلته د کمپ لپاره ډیر ځای سته چې هم لرګي لري، هم اوبـهٔ، د اوښانو د څرلو ځایونه هم لري او هم لږ واښـهٔ لري. د درې یا د اوږدې تنګې درې ارتوالی دلته تقریباً ۱/۲ ۲ مایله دی. د سیلي کچ «څلي کڅ ــ ژ» په مقابل لوري کې د کمپ وهلو لپاره یو بل ښه ځای هم سته. ډیر ځای او ډیرې اوبـهٔ سته او د ټیټکیو بوټو یوه تړانګه هم سته. دغه ټکی تر غرونو لاندې دی نو له دې کبله غر له پاسه ورباندې مسلط دی خو د دې ځای مدافعه د غرهٔ په هغې ټیټې غاړې کې د څو پوستو په ځای پر ځای کولو سره کیدای سي چې د دې غرنۍ لړۍ له وروستي غرهٔ سره یو ځای کیږي. جت پوټي ۱۰ مایله لیرې دی. د دې ځای په ګاونډ کې څو د اوبو ژرندې سته؛ او همدا شان څو نري بندونه سته چې اوبـهٔ ئـې د لوړه له سینده راګرځول سوي چې د ښوراوک نهرونه وربانډې ډک کړي. دا ټکی د یادونې وړ دی چې سیلي کچ د اڅکزیو او بړیڅو تر منځ د پولې یا حد ښه ده؛ معهذا د ښوراوک حقیقي پوله ډیره پورته ده چې د «تنګ د درې» [29] د التصاق په ټکي کې راځي. «میټلند»
**سنجري**: یا: **سینځري**: ۳۷ ــ ۳۱، ۳۳ ــ ۶۵ «ن»: دا د کلیو یوه ټولګه ده چې تقریباً ۱۲۶ کورونه او ۳۶۰ تنه استوګن وګړي لري؛ بیسکو وایي ې دوی الکوزي دي خو سټیوارټ وایي چې دوی د قزلباشانو، الکوزیو او پوپلزیو ټولګه ده او له کوهکران څلور اعشاریه دوه مایله ورهاخوا خپل نوم د کمپ یو سیمې ته ورکوي چې د کندهار د ښار د هرات له دروازې څخه یولس اعشاریه دوه مایله لیرې د ګرشک د سړک پر غاړې موقعیت لري. د کمپ سیمې ته له رسیدلو مخکې چې د سنجرانیو د وروستیو کوچنیو کلیو په لویدیځې خوا کې واقع ده، سړک د سنګیسار د نهر له پاسه چې ۳۰ فیټه ارت دی په یوهٔ پلـهٔ باندې چې ۸ فیټه ارت او دوه قوسونه لري تیریږي، دا پل د ۱۸۷۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې د توپچي ځواک د وسایطو لپاره مناسب او وړ وو خو بیا هم د درندو وسایطو د تیرولو لپاره نور تقویتي کار ته اړتیا لري.
له سنجراني څخه تر کشکِ نخود پورې یوه مسقیمه لاره تللې ده. کلي ته نیږدې ډیرې شولې او هندي جوار کرل سوي دي؛ سون لرګي او علوفه جات پریمانه دي او همدا رنګه اوبـهٔ ئـې چې له نهر څخه دي پریمانه دي او د «عاشقانو» [30] پر لور د سیند پر غاړه د اوښانو د څرلو لپاره ډیر ښـهٔ ښـهٔ ځایونه سته دي. وروستی یاد سوی کلی د سنګیسار د نهر پر غاړې د کمپ د لویدیځ په دوه مایلۍ کې واقع او څو دانې د اوبو ژرندې لري. که کله مو اوښان د سیند پر لور د څرلو لپاره لیږل د هغوی د لارې په غوره کولو کې باید احتیاط وسي ځکه د لارو په اوږدو کې د شولو ډیر پټي دي او که پام ونـهٔ سي د اوښانو پښې په ختو کې بندیږي. کمپ ته نیږدې یو منفرد غر دی چې د لارې د موندلو او د سیګنال د سټیشن لپاره ښـهٔ موقعیت لري. «بیسکو، برون، سټیوارټ، آی. بي. سي.»

---

27 - SIKEHALA

28 - SILI KACH Or SHILIKACH: دلته برتانویانو هغه څه چې په سیمه ییزې لهجې او هم ئـې د خپلو ژباړونکو له خولې اوریدلي دي نوم ئـې هماغسې په شفاهي ډول لیکلی دی. په متن کې دننه ماته څرګنده سوه چې وایي :
the place derives its name i. e., sili a stone pillar, or monolith, erected over graves
ددې ځای نوم له «سیلي» د ډبرینې ستنې یا تخته سنګې څخه راغلی چې د قبرونو پر سر درول سوي وي. د همدغو توضیحاتو په پام کې نیولو سره زه ژباړونکی په ډاډ سره ویلای سم چې ددې ځای د نوم صحیح بڼه «څلی کڅ» دی او له همدې امله ما لومړی څلی کڅ لیکلی دی.

29 -Tang ravine

30 -Ashikan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سین خیل**: ۱۰ ــ ۳۲، ۵۹ ــ ۶۶ «ج»: ۱۰ ــ ۳۲، ۵۹ ــ ۶۶ «ج»: دا د قلات غلزايي د شمال ختيځ په تقريباً ۷ مايلی کې د ترنک پرغاړې يو کلی دی. دلته ډيری کرنيزې ځمکې سته چې کرل سوي دي او د اړتياوړ توکي تل او هر وخت ورڅخه راټوليدای سي. «افغان جګړه، ۱۸۸۰زکال»

**سنځله**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا يو سيند دی چې د «مانک نيکهٔ د زيارت» [31] په لويديځ کې راپورته کيږي چې لومړی د ۱۳ مايلو لپاره د بهيدا لويديځ لوری نيسي؛ له دې مزل وروسته له دوبندي ۶ مايله کوز کدني ته ورغورځي. د مانک نيکه په ختيځ کې د سنځلي په نوم يو بل سيند دی چې له هماغه ځايه راپورته او د ثلثون پر لور مخ پر شمال ختيځ بهيږي. «بن»

* **سيستان**: ۵۷ ــ ۳۳، ۱ ــ ۶۷ «ن»: دا د روزګان ولايت په شمال ختيځ کې په همدې نوم د سيند پرغاړې «ليګان» ته نيږدې يو کلی دی.

**ستان زي**: دا د نورزيو يوه ځانګه ده. «کليفرډ»

**سين داګ**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا د کندهار له ختيځه ۹۶ مايله ليرې يو لوی کلی دی. اوبهٔ ئې له سيند څخه دي.

**سميلي**: ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا د ارغسان د سيند د الحاق له ټکي تقريباً ۳ مايله پورته د «لهار نالي» [32] پر غاړې يو کلی دی. «مسي»

**سودني**: ۳۲ ــ ۳۱، ۹ ــ ۶۶: دا يوه ناله ده او هغه سړک ورڅخه تيريږي چې له اسحق زيو څخه په راوتلو لړ وروسته عطاء محمد ته د لاړې په اوږدو کې د ارغسان د اوبو په پورتني بهير منتهي کيږي. د دې نالي پرغاړې درې کوچني کلي واقع دي چې ظاهراً سړک ته نيږدې دي. کله چې جګړن کليفرډ له دې سيمې څخه ليدنه کوله «فصل ئې نهٔ دی ويلی چې کوم فصل کې وو» دا ناله وچه وه او کله چې مسي د مارچ په دوه ويشتمې نيټې له دې سيمې او د نالي له منځه تيريدل ئې تيرول کومه مانعه ئې رامنځه نهٔ کړه. «کليفرډ، مسي»

**سوج**: دا د بلوڅو پر پولې د ۱۱ خاصه دارانو يوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

* **سوخي**: ۵۵ ــ ۳۲، ۲۶ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د «سخر» له سيند سره د يو ځای کيدني له ټکي تقريباً ۶ مايله ليرې د يوهٔ سيند پر غاړې يو کلی دی.

**سوخته**: ۲۳ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۵ «الف»: دا د دريو کليو يوه ډله ده يعني د بيابان درې، سرخ آبي او «نهر-ی- ملخي» [33] کلي چې د کندهار ــ کويټي له سړک څخه ۱۸ مايله ليرې د مندي حصار او عبدالرحمن تر منځ واقع دي. «بيسکو»

**سوری**: [34]: دا د هوتکو تر غرونو لاندې د قلات غلزايي په ختيځ کې يو کلی دی. «بيسکو»

**سوزني**: ۴۷ ــ ۳۱، ۴۶ ــ ۶۵ «الف»: دا د ارغنداب د سيند پر ښې غاړه د کليو يوه ډله ده چې د ارغنداب له لاړې قلات غلزايي ته پر لاړې له کندهاره ۱۴ مايله ليرې د دهلي له ولسوالی دباندې واقع دي. دلته د اړتياوړ توکي پريمانه دي.

کلي ته نيږدې د سوزني ناله له ارغنداب سره يو ځای کيږي. دا سيند د خاکريز په ولسوالی کې راپورته کيږي او د خاکريز او سوزني له منځه تيريږي. دا سيند له ارغنداب سره د يو ځای کيدني په ټکي کې په خاص ډول ليدل کيږي.

له دهلي څخه د سوزني د سيند د ښې غاړې په اوږدو کې يو سړک تير سوی دی. «بيسکو، لينس»

*اوسنی نقشې د سوزني نوم نښيي. په دې نوم يو سيند په ۵۱ ــ ۳۱، ۴۷ ــ ۶۵ «ن» کې موقعيت لري.*

**سپرې**: ــ ۳۰، ــ ۶۶: دا د سرلت د غرنی لړۍ يوه فرعي ځانګه يا متممه برخه ده. دا په ښوراوک کې د پټله خان د ختيځ په تقريباً ۳ مايلی کې واقع ده. «آی.بي. سي.»

**سپيدار**: ۴ ــ ۳۲، ۱۸ ــ ۶۷ «ج»: دا له معروف څخه ۹۵ مايله ليرې له غزني څخه د ګومل تر کوتل پوري د راهٔ معروف پر غاړې د دمې نيولو يو ځای دی. «وګورئ: ناوه» په دې ځای کې استوګن وګړي نهٔ سته؛ اوبهٔ ئې له چينو څخه دي. دا ځای په همدې لور کې د تره کې غلزيو حد دی.

**سپيراوانه** :[35]: ۳۰ ــ ۳۲، ۲۹ ــ ۶۷: دا شاه جوی ته نيږدې خو د ترنک بلې «ختيځې» غاړې کې يو غر دی. د همدې غرهٔ له ځوکې څخه د آبِ ايستاده جهيل له ورايه ښکاري. «ايليس ۱۸۸۰»

**سپيروان**: ۳۰ ــ ۳۱، ۲۶ ــ ۶۵ «ن»: دا د ارغنداب پر کيڼې غاړې دوه کوچني کلي په هغهٔ ټکي کې دي چې د سيند پر همدې غاړې د «چل کور» [36] او پنجوايي له لاړې له کندهار څخه د «مير آخور خان د کلا» له لاړې تر بيست/بُست

---

31 - Manak Nika Ziarat

32 - Lahar Nala

33 -Nahr -i -Mala Khai

34 -SORAI

35 -SPERAWANA

36 - Chilkor



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

پورې لاره له یوۀ ګودر څخه تیریږي. دا کلی په هغو کلیو کې تصنیف سوی چې په ملایانو پورې اړه لري او مالیات نـۀ ورکوي. دا ګودر د جنوری په میاشت کې ښـۀ وي او بستر ئـې ټینګ دی، سیند په دریو نهرونو کې بهیږي چې هر نهر یا کانال ئـې له ۲/۱ ۱ تر ۲ فیټو پورې ژوروالی لري. ویل سوي چې د سیلاب پر مهال اوبـۀ له ۴ تر ۵ فیټو پورې ژورې سي. د سیند ښی غاړه ټیټه ده ؛ د سیند کیڼه غاړه " په ستوغواله ښه یوې غونډۍ کې" لوړیږي. په کلي کې د اوبو یوه ژرنده هم سته. «آی. بي. سي» *اوسنی نقشې د «سپیروان» نوم ښیي.*
**سپینه خولــۀ**: ۲۱- ۳۰، ۱۱ ــ ۶۶ «ن»: دا د «سپین تیجهه» [37] له لارې له پښین څخه ښوراوک ته د تللې لارې په اوږدو کې د اوبو یوه چینه او د کمپ د سیمې نوم دی. د اوبو دا چینه د «چاوال د دښتې» [38] په ختیځ کې د «سرګو او د خرما» د غرونو ترمنځ نیمایي لاره کې په یوې اوږدې تنګې درې کې واقع ده. دا لاره سویل لور ته په تللو سره له «ارګوتي» [39] څخه لیرېې په ۲/۱ ۱۲ مایل واټن کې په دوه وو څانګو ویشل کیږي. یوه څانګه نیغ پر نیغه د «بند تر کوتل» [40] پورې تللې ده؛ بله ئـې خپله مخه کیڼ لاس ته کږوي او د یو نیم مایل لپاره د شګو له یوې ټیټې غونډۍ څخه تیریږي او پر سپینې خولې باندې ورکوزیږي. دلته د ښو او ګازلرونکو اوبو یوه سرچینه سته چې له غرۀ څخه راکوزیږي او د سترو ګرانیټ تخته سنګو له سره را تیریږي او په دې سره، اوبـۀ چې په تخته سنګو لګیږي خپل رنګ بدلوي، د اوبو د رنګ د بدلولو په پار چې همدلته واقع کیږي دغه ځای په خپله د سپینې خولې په نوم یاد سوی دی. په خپله په ناله کې د کمپ لپاره ځای سته خو د ځمکې سطحه په هر لور کې لوړه ده، او پر هر لور باندې مسلطه ده. د دې ځای په نیږدې ګاونډ کې هیڅ پوونده نـۀ سته خو سون لرګي په کې په لږې اندازې موندل کیږي. دلته نـۀ د استوګنې کوم ځای سته او نه هم د اړتیا وړ توکي. له سپینې خولې څخه تر ښوراوک پورې دوې لارې تللې دي: (۱) د بند د کوتل له لارې، او (۲) د خرما د غرونو د لویدیځ ګردچاپیره. د اوبو چینه له ارګوتي څخه ۱۴ مایله یا له سپین تیجهه څخه ۲/۱ ۲۴ مایله لیرې ده. په ښوراوک کې د احمد خان سیمه له دې ځایه ۱۰ مایله او له جت پوتې ۱۶ مایله لیرې ده. «هنل» دلته د ۱۰ تنو خاصه دارانو یوه پوسته هم ځای پرځای ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»
**سپینــه والــۀ**: دا د کندهار په ولایت کې د کندهار د شمال ختیځ په تقریباً ۱۸ مایلۍ کې له کندهاره تر قلات پورې د سړک په اوږدو کې د ترنک د سیند پرغاړې یو کلی دی.
**سپین بولدک**: وګورئ: بولدک او سپین بولدک: ۱ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۶ «الف»
**سپین بند**: ــ ۳۲، ــ ۶۷: دا د «سرخ کوه» [41] (سور غرۀ) د غرنۍ لړۍ له منځه یو کوتل دی چې د «سپین سنګ» [42] د کوتل له سویل څخه تقریباً ۷ مایله او د قلات – غلزایي له ختیځ – شمال ختیځ څخه تقریباً ۲۲ مایله لیرې موقعیت لري. «آی. بي. سي.»

## نور بیا

*** سپـین بولدک**

**یادونـه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

---

[37] - Spintijha
[38] -Chawal plain
[39] - Argutai
[40] -Band pass
[41] - Surkh Koh range
[42] - Spin Sang pass


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ